WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۴ (از ۱۷ الی ۲۴ جوزا ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........................................................................ ۳


## افغانستان و مشکل مبارزه با مواد مخدر


- وضعیت کشت کوکنار در سال ۲۰۱۴:........................................................ ۴
- آیا امسال ریکاردهای گذشته خواهد شکست؟............................................... ۵
- بهرۀ افغانستان از کشت کوکنار:.......................................................... ۵
- کشت جایگزین:........................................................................ ٦
- دست‌های خارجی:....................................................................... ۷






ACKU

## د افغانستان د راتلونکي بهرني سیاست سترې اړتیاوې


- د افغانستان راتلونکې باندنۍ چارې........................................................................ ۹
- ۱ - له بېلابېلو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا اړتیا:............................................... ۹
- ۲- پر گڼو گټو ولاړ بهرنی سیاست:.......................................................................... ۱۰
- ۳- ناپیېلتوب؛ یو ځل بیا!............................................................................................ ۱۱
- ۴ - د افغانستان نرم ځواک زیاتول!............................................................................ ۱۱
- ۵ - اقتصادي ډیپلوماسي:........................................................................................... ۱۲









## مقدمه

افغان چارواکي د دولسو کلونو له تېرېدلو وروسته وايي، چې په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې او افغان دولت له خوا، له نشه‌يي توکو سره ۱۲ کلنې مبارزې او هلو ځلو، د پام وړ پايلې نه دي درلودلې. له نشه‌يي توکو سره د مبارزې وزارت د چارواکو په وينا، له همدې امله يې اوس په دې اړه د سيمه ييزو همکاريو يوه کړنلاره تدوين کړې، چې له مخې يې د معلوماتو د تبادلې، د قاچاق وړونکو او نشه‌يي توکو د نيولو او افغانستان ته د کيمياوي توکو د واردېدلو په اړه، له ګاونډيو هېوادونو د جدي همکارۍ غوښتنه شوې ده.

له نشه‌يي توکو سره د مبارزې وزارت د چارواکو په وينا، د نشه‌يي توکو قاچاق وړونکي هر کال له ۷۰ تر ۸۰ ميلیارده ډالرو پورې له دې لارې لاسته راوړي، چې په وينا يې د نشه‌يي توکو سوداګري په افغانستان او سيمه کې د ناامنيو لامل هم شوې ده.

افغانستان په نړۍ کې د نشه‌يي توکو تر ټولو ستر توليدوونکی هېواد دی؛ خو د نشه‌يي توکو په نورو ډولونو د ترياکو د بدلولو لپاره، کيمياوي توکي له نورو هېوادونو افغانستان ته واردېږي. دا چې په تېرو کلونو کې، په افغانستان کې د کوکنار د کښت او نشه‌يي توکو د له منځه وړلو لپاره د نړيوالې ټولنې او افغان دولت له هلو ځلو سره، ولې د نشه‌يي توکو د توليد کچه ورځ تر بلې زياتېږي؟ همدا راز د نشه‌يي توکو د توليد پراختيا نور کوم اړخونه او انګېزې لري او د اقتصادي اړخ ترڅنګ ترکومه پورې سياسي عوامل لري؟

بله موضوع هم د افغانستان بهرنی سياست دی، چې په تېرو کلونو کې له پراخو کمزوريو سره مل و؛ دا چې افغانستان د دريېمې نړۍ يو وروسته پاتې هېواد، له پراخو ستونزو سره مخ او د نړيوالو همکاريو او دوه اړخيزو اړيکو ته ترټولو ډېره اړتيا لري؛ نو په راتلونکي کې د افغانستان د بهرني سياست ستري اړتياوې څه دي؟ د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان بهرني سياست ته له نظر اچولو سره، افغانستان بايد په دې برخه کې کوم اړين ګامونه اوچت کړي، ترڅو د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره په اړيکو کې سياسي ثبات خپل کړي او له نورو هېوادونو سره په دوه اړخيزو اړيکو کې، تر ډېره د هېواد ملي ګټې خوندي شي. همدا موضوعات د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

# افغانستان و مشکل مبارزه با مواد مخدر



تجارت مواد مخدر در جهان، بعد از تجارت نفت و اسلحه بزرگترین رقم را در دادوستد بین المللی تشکیل می‌دهد. آمارهای ادارهٔ مبارزه با جرایم و مواد مخدر سازمان ملل متحد نشان می‌دهد که در افغانستان همه‌ساله به ارزش هفت ملیارد دالر مواد مخدر تولید می‌شود و از زمان حملهٔ امریکا به افغانستان درسال ۲۰۰۱ میلادی تاکنون، میزان کشت کوکنار و تولید مواد مخدر از آن ۴۰ برابر افزایش داشته است.

## وضعیت کشت کوکنار در سال ۲۰۱٤:

امسال مقدار زمین زیر کشت کوکنار به ۲۵۰ هزار هکتار می‌رسد؛ اما مقدار زمین‌هایی که در آن کشت کوکنار از بین برده شده، قرار ذیل است:

در ولایت هلمند ۹۰۱ هکتار

در ارزگان ۱۳۱ هکتار

در زابل ۱۲ هکتار

در کندهار ۹۶ هکتار

در مورد از بین بردن کشت کوکنار در ولایت‌های فراه، نیمروز و سایر ولایات کشور احصائیه‌ای در دست نیست و امسال از مجموع ۲۵۰ هزار هکتار، فقط ۱۱۳۸ هکتار زمین‌های زیر کشت کوکنار ازبین برده شده است. مقامات مسؤول دلیل این کم‌کاری را مصروفیت نیروهای امنیتی کشور، در تامین امنیت انتخابات می‌دانند. به عبارهٔ دیگر از انتخابات ریاست جمهوری نیز بیشترین بهره را قاچاقچیان و مافیای مواد مخدر برده‌اند!

ACKU

## آیا امسال ریکاردهای گذشته خواهد شکست؟

اگر به احصائیه‌های رسمی منتشر شده از جانب نهادهای رسمی، بخصوص ادارهٔ مبارزه با جرایم و مواد مخدر سازمان ملل متحد مراجعه نمائیم، در سال ۲۰۰۱ میلادی یعنی سال اخیر حکومت طالبان در افغانستان، تولید تریاک ۱۸۵ تن بود این مقدار نیز تولید سال قبل بود که قاچاقچیان ذخیره کرده بودند. ملا محمد عمر رهبر طالبان، در آغاز سال ۲۰۰۱ طی فرمانی کشت کوکنار را در آغاز آن سال ممنوع اعلام نمود. بعد از سقوط طالبان، گراف تولید مواد مخدر در افغانستان سیری صعودی داشته است. این نمودار که از طرف (UNODC) در سال ۲۰۰۹ به نشر رسیده، نمایانگر همین حقیقت است:




| | 1994 | 1995 | 1996 | 1997 | 1998 | 1999 | 2000 | 2001 | 2002 | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Production | 3,416 | 2,335 | 2,248 | 2,804 | 2,693 | 4,565 | 3,276 | 185 | 3,400 | 3,600 | 4,200 | 4,100 | 6,100 | 8,200 | 7,700 |

در سال ۲۰۰۹ تولید تریاک به ۶۹۰۰ تن رسید. از سال ۲۰۱۰ اراضی کشت کوکنار افزایش یافت؛ زیرا از این سال نیروهای خارجی از طریق هوا به پاشیدن مواد از بین برنده روی مزارع کوکنار شدت بخشیدند، بحدی که در سال ۲۰۱۲ تولید مواد مخدر به ۳۷۰۰ تن کاهش یافت و دهقانان هم برای اینکه کاهش تولید را جبران کنند، زمین‌های زیر کشت را افزایش دادند که در نتیجه میزان تولید تریاک درسال ۲۰۱۳ به ۵۵۰۰ تن رسید که امسال یعنی سال ۲۰۱۴ میزان اراضی زیر کشت کوکنار به ۲۵۰ هزار هکتار رسیده و کشت کوکنار در ولایت‌هایی که قبلاً از بین رفته بود، دوباره از سر گرفته شده است.

ACKU

## بهرهٔ افغانستان از کشت کوکنار:

بر طبق گزارش دفتر مبارزه با جرایم و مواد مخدر سازمان ملل متحد (UNODC) از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۰ میلادی به ارزش ۷۰ میلیارد دالر مواد مخدر در افغانستان تولید شده است؛ اما سوال اینست که از این پول هنگفت، بهرهٔ افغانستان وبخصوص دهقانان چقدر بوده است؟

بر طبق این گزارش (UNODC) از مجموع ۷۰ میلیارد دالر، فقط دو میلیارد دالر آن نصیب دهقانان شده و ۶۶ میلیارد دالر آن به جیب قاچاقچیان و مافیای بین المللی مواد مخدر در خارج از افغانستان رفته است. این اداره معتقد است که از این میزان مبلغ ۲۰۰ میلیون دالر (سالانه ۲۰ میلیون دالر) به مخالفین مسلح دولت افغانستان تعلق گرفته است.

در طول سال‌های گذشته، بنام مبارزه با کشت مواد مخدر تبلیغات زیادی صورت گرفت. تلاش در راه کشت جایگزین و دادن جایزه به کسانی که دست از کشت کوکنار برمی‌دارند، بخشی از این اقدامات بود. گفته شد که جامعۀ جهانی در طول دوازده سال، بیش از هفت ملیارد دالر دراین راه هزینه کرده است؛ اما مشخص نیست که این پول‌ها در کجا به مصرف رسید. اما آنچه که مشخص است اینست که دهقانان از این پول‌ها بهره‌ای نداشتند.

## کشت جایگزین:

یکی از راههای مبارزه با کشت کوکنار، ترویج کشت جایگزین است که در بعضی از ولایات، دهقانان تشویق به کشت زعفران شده‌اند اما موانع بزرگی در این راه وجود دارد.

مانع نخست وجود ناامنی‌ها و جنگ در افغانستان است که حاکمیت دولتی را در بخش اعظم از افغانستان، به چالش کشیده است. بنابراین تا صلح در افغانستان حاکم نگردد، امکان محو کشت کوکنار ناممکن است.

فساد مالی در دستگاه دولت، مشکل دیگری است که موجب گردیده تا علیه این پدیدۀ شوم، مبارزۀ جدی صورت نگیرد. هرچند مقامات امنیتی کشور بارها از دستگیری قاچاقچیان مواد مخدر خبر داده‌اند؛ اما تاکنون هیچ قاچاقچی بزرگی دستگیر نشده است. دلیل آن نیز حضور قاچاقچیان بزرگ در دستگاه دولت است.

حاصل بدست آمده از مزارع کوکنار نیز مشوقی برای دهقانان بی‌بضاعت است. حاصل تریاک در یک هکتار زمین در افغانستان، بصورت اوسط ۵۵ کیلو گرام است؛ درحالیکه از یک هکتار زمین در جنوب آسیا، فقط ۱۵ کیلو گرام تریاک بدست می‌آید.

عجیب است که کشت سایر اقسام مواد مخدر نیز در افغانستان، در مقایسه با کشورهای دیگر حاصل به مراتب بیشتر دارد. به گزارش UNODC شاهدانه «دانه‌ای که از آن چرس یا حشیش بدست می‌آید» در کشورهای دیگر هم کشت می‌شود، اما میزان حاصل دهی آن در افغانستان شگفت آور است. این گیاه در افغانستان در هر هکتار ۱۴۵ کیلوگرام حاصل می‌دهد، درحالیکه در مراکش از یک هکتار فقط چهل کیلوگرام حاصل بدست می‌آید. به همین دلیل افغانستان بزرگترین تولید کنندۀ چرس در جهان هم بشمار می‌رود.

اوسط قیمت یک کیلوگرام تریاک ۲۰۰ دالر است که با معیارهای افغانستان، عاید بسیار خوبی بشمار می‌آید. بنابراین برای یک دهقان کشت کوکنار بهتر از کشت سایر محصولات است.

ACKU

## دست‌های خارجی:

این سوال هنوز بی‌جواب است که چرا تولید تریاک در افغانستان از سال ۲۰۰۱ تا کنون چنین سیر صعودی داشته است؟ گفته می‌شود که میزان نیاز دنیا به هروئین سالانه در حدود پنج هزار تن است؛ اما افغانستان در بیشتر سال‌ها بیش از نیاز جهانی تولید داشته و قیمت هم زیاد تغییر نکرده است، در حالیکه این یک قاعده در اقتصاد است که وقتی عرضه از تقاضا بیشتر باشد، قیمت کاهش می‌یابد.

دلیل این امر بیش از اینکه اقتصادی باشد، سیاسی است. دست‌های مرموزی در کار اند تا در جهان تعداد بیشتری از مردم را به این بیماری مهلک دچار سازند. این تلاش بیشتر در کشورهایی متمرکز است که با امریکا مشکل دارند، مانند فدراسیون روسیه و ایران. بخش بزرگی از هروئین افغانستان یا به این کشورها و یا از طریق این کشورها به کشورهای دیگر صادر می‌شود و معضل مواد مخدر برای این دوکشور، مبدل به یک معضل بزرگ اجتماعی و اقتصادی شده است. در افغانستان نیز تعداد معتادان از مرز دو ملیون نفر گذشته است.

یک نگاه به نمودار فوق نشان می‌دهد که هرچند تولید مواد مخدر در افغانستان از قبل وجود داشته، اما بعد از حضور نیروهای خارجی در افغانستان، تمام ریکاردهای گذشته را شکسته است.

بخش بزرگی از تریاک بدست آمده در افغانستان، در داخل کشور به هروئین تبدیل شده و سپس به خارج صادر می‌شود. برای تبدیل مثلا ۶۰۰۰ تن تریاک به حدود ۶۰۰ تن هروئین، به بیش از ده هزار تن مواد کیماوی ضرورت است. این مواد در داخل افغانستان ساخته نمی‌شود بلکه از خارج وارد می‌شود. چگونه و از کدام راه‌ها چنین مقدار عظیم مواد کیماوی به افغانستان وارد می‌شود؟!

از جانب دیگر ارسال صدها تن هروئین به خارج از راه زمینی به کشورهای دوردست، مانند اروپا صادر می‌شود. این کار کمک مقامات دولتی در کشورهایی که این مواد از آنها می‌گذرد با قاچاقچیان و مافیای مواد مخدر ممکن نیست.

بخش مهمی از این مواد مخدر نیز از راه هوایی به خارج انتقال می‌یابد که این کار هم بدون دست داشتن نیروهای خارجی و مقامات دولتی کشور ما، نیز ناممکن است. پس می‌توان درک کرد که چرا از سال ۲۰۰۱ ببعد، نمودار تولید مواد مخدر در افغانستان، رشد صعودی را نشان می‌دهد.

و در اخیر این سوال نیز نیاز به مطرح شدن دارد که آیا عدم تصویب قانون منع پول شویی از جانب دولت افغانستان از چندین سال بدینسو، که علیه آن دست‌های پیدا وپنهان در کار است، تا چه حد با عواید بدست آمده از قاچاق مواد مخدر رابطه دارد؟

ACKU

# د افغانستان د راتلونکي بهرني سیاست ستړې اړتیاوې



دا چې په اوسنی نړۍ کې هر هېواد د نړیوالو پاملرنې، مرستو، همکارۍ او دوه اړخیزو اړیکو ته اړتیا لري؛ افغانستان هم، چې د دربیمي نړۍ یو وروسته پاتې هېواد دی، د نړیوالو پاملرنې، مرستو او دوه اړخیزو اړیکو ته لا ډېره اړتیا لري.

د تاریخ په اوږدو کې افغانستان په نړیوال سیاست کې مهمه ونډه درلودلې او لري یې. په غزنوي دوره کې یې بلخ، هرات او غزنی د اسلامي نړۍ سیال او د تمدن مرکزونه وو. په احمدشاهي دوره کې په ټولیزه توګه د افغانستان د بهرني سیاست محور له «هندي مسلمانانو دفاع» وه، چې د هند پر سیاست یې ژور اغېز وکړ او له همدې ځایه یې بیا د انګلیس پر استعمار هم خپله وېره خپره کړه. د نولسمې پېړۍ په پیل کې یې د هند د میسور له ټیپو سلطان او د فرانسې له ناپېلیون سره یوځای د انګلیسي استعمار پرخلاف دسیسې جوړې کړې. په همدې پېړۍ کې یې د نړیوال سیاست مهمو جګړو او لوبو (لویې لوبې) ته ځان چمتو کړ.

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پرمهال افغانستان داسې پالیسی ته مخه کړه، چې وروسته د سړې جګړې په دوران کې "جواهر لعل نهرو" او "چو این لای" یې پرمټ د ناپېیلو هېوادونو غورځنګ جوړ کړ. په سړه جګړه کې یې هم هغه ستر رول ولوباوه، چې نړۍ یې نوره له هغې ډرامې او وېرې وژغورله او دا مهال بیا د امریکا په نوي نړیوال نظام کې هم قاطع رول لوبوي.

له دې لنډ تاریخي شالید څخه جوته ده، چې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې خارجي سیاست درلودلی او په کوم پړاو کې چې ترې دا واک اخېستل شوی، نو د دې لپاره یې جګړې (د آزادۍ جګړې) هم کړې دي.

ACKU

په هر پړاو کې يې د خارجي سياست جلا جلا اصول درلودلي دي؛ خو يو اصل يې (ناپېيلتوب) ډېر عمومي دی. دا مهال چې د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل واک د ټاکنو له لارې په سوله ييز ډول له يوه ولسمشر څخه بل ولسمشر ته لېږدول کېږي، د راتلونکي حکومت بهرنی سياست به د هغه حکومت له بريا سره نېغه اړيکه ولري.

## د افغانستان راتلونکي باندنۍ چارې

افغانستان د نړۍ په هغه ستراتېژيکه سيمه کې پروت دی، چې په دې سيمه کې د انرژۍ نوې لوبه روانه ده، د ورېښمو د نوو لارو جوړولو بازار پکې تود دی او د نړۍ د ځواک تله، له لوېديځ څخه پر دې خوا درنېږي؛ له بلې خوا دغه هېواد اوسمهال د نړيوالو ځواکونو ترځنګ له خپلو ګاونډيانو سره هم ښکېل دی. له دغو ټولو سره د مخ کېدو او هر څه د ځان په ګټه تمامولو لپاره قوي خارجي سياست ته اړتيا ده. داسې خارجي سياست ته، چې نه يوازې دا چې د افغانستان اړيکې له نړۍ سره ښې کړي؛ بلکې تر يوه بريده پورې افغانستان د نورو هېوادونو له منفي سياست او لاسوهنو هم وژغوري او ترځنګ يې له هېوادونو سره دوه اړخيزې اړيکې اوږدمهالې او دوارو هېوادونو ته ګټورې کړي. د افغانستان بهرنی سياست بايد په څو برخو کې پياوړی شي.

### ۱ - له بېلابېلو هېوادونو سره د اړيکو د پراختيا اړتيا:

د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پرمهال، په اروپا کې د نړيوال سياست او ډيپلوماسۍ سخت شرايط وو او په ټوليزه توګه د سړې جګړې پرمهال د نړۍ د هېوادونو مشرتابه، هغه چې په فکري لحاظ دواړو بلاکونو ته مايل نه وو، له يوه پيچلي او سخت انتخاب سره مخ شول. خو دغو هېوادونو ته هغه مهال هم د مېز پر سر يو انتخاب پروت نه و، بلکې د سړې جګړې پرمهال هند، چين، اندونيزيا او نورو هېوادونو د دوو انتخابونو (شوروي يا امريکا) پرخلاف خپل نوی انتخاب ته لاره پرانيسته، چې په پايله کې يې د ناپېيلو هېوادونو غورځنګ رامنځته کړ. دې چارې ته په کتو سره بايد په نړيوال سياست کې انتخاب "يو" نه وي او افغانستان يوازې پر يوه لوري تکيه ونه کړي.

يوه د پام وړ خبره هم دا ده، چې په دغو دوو مرحلو کې اړوند هېوادونه اړ وو، چې له يوه اړخ سره بايد ملګري شي، ترڅو خپلې ګټې خوندي کړي. که د افغانستان د تېرې لسيزې او د سړې جګړې خارجي سياست ته وګورو، نو جوته ده چې افغانستان په نړيوالو زبرځواکونو پورې ځان تړلی دی. د سړې جګړې پرمهال يې په شورويانو پورې او اوسمهال يې

بیا په امریکایانو پورې ځان تړلی دی. بیا هم د سړې جګړې مهال او د تېرې لسیزې (۲۰۰۰-۲۰۱۰) لومړي کلونه له اوسنیو حالاتو سره ډېر توپیر لري. د سړې جګړې پرمهال موږ اړ کړای شوو، چې د شورویانو په لور ولاړ شو؛ خو بیا مو هم د خپلې ملي جرګې هغه پرېکړه ونه منله، چې باید ځان یوازې د شورویانو پر مرستو متکي نه کړو؛ بلکې په دې اړه له نورو هېوادونو څخه هم مرستې وغواړو. او هېواد ته د امریکایانو له راتګ سره، نړۍ یوازې یو هیژومینیک نړیوال زېرځواک درلود او هغه امریکا وه؛ هغه مهال هم جګپوړي چارواکي یا خو اړ وو، چې امریکا ته سترګې په لار شي او یا یې هم دا وړتیا نه درلوده، چې خپله غاړه د یوه زېرځواک له کړۍ څخه آزاده کړي.

خو اوسمهال، چې ملت او د هېواد خاموشه اکثریت له امریکا سره ستراتېژیک تړون نه مني او هغه چې د اقتصادي مرستو لپاره یې مني، هغوی ته باید وویل شي، چې په اوسمهالني نړیوال سیاست کې چې د بریک (BRIC) (برازیل، روسیه، هند، او چین) هېوادونو سر پورته کړی، روسیې له ۲۰۰۸ کال راهیسې د نړۍ یو قطبي توب (unipolar) ننګولی دی، چین دویم چاغ اقتصادي ځواک دی او داسې برېښي چې په راتلونکو کلونو کې به لومړی مقام ونیسي، هند او ترکیه هم د خپلو سیمو ځواکونه دي او په تېره بیا د نړیوال سیاست د تلې دروندوالی زموږ سیمې ته راروان دی؛ نو پکار ده، چې خپلو ملي ګټو ته په کتلو سره له دغو هېوادونو سره هم خپلې اړیکې پراخې کړو او یوازې امریکا محوري پاتې نه شو.

## ۲- پر ګډو ګټو ولاړ بهرنی سیاست:

کومې اړیکې چې پر "ګډو ګټو" تکیه ولري هغه اړیکې اوږدمهالې او باثباته وي. افغانستان ته پکار ده، چې له هغو هېوادونو سره اړیکې لا ټینګې او پراخې کړي، چې "ګډې ګټې" ورسره ولري. د بېلګې په توګه که موږ له پاکستان سره په ګډه د ټاپي، د ورېښمو نوې لارې او منځنۍ آسیا ته په ترانزیټي لاره کار وکړو او ترڅنګ یې په نورو ګډو ګټو لرونکو پروژو هم کار وکړو؛ نو له یوې خوا به یې د افغانستان پر اقتصاد مثبتې اغېزې پرېوځي او له بلې خوا به ګاونډیان وهڅوي، چې د خپلو دغو اقتصادي ګټو لپاره په افغانستان کې مثبت رول ولوبوي.

همدارنګه له ایران او هند سره د چابهار په بندر، له ایران څخه چین ته د انرژۍ د نللیکي غځول، د ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان او چین د انرژۍ نللیکه، د منځنۍ آسیا له ځینو هېوادونو څخه په برېښنا کې همکاري غوښتل او په نورو ګډو ګټو لرونکو پروژو کې له دوی سره کار وکړو.

## ۳- ناپېیلتوب؛ یو ځل بیا!

په اوسمهالني نړیوال او سیمه‌ییز سیاست کې، چې نړی له یو قطبي څخه د ډېرقطبي په لور روانه ده او زموږ په سیمه کې سیمه‌ییز ځواکونه، چې د سبا نړیوال ځواکونه به وي، هم مخ په ډېرېدو دي؛ لکه چین، هند، جاپان او روسیه او همدارنگه سیمه‌ییز ځواکونه لکه ایران، پاکستان، سعودی او ترکیه. له دغو ټولو سره باید موږ د ښو اړیکو غوښتونکي واوسو. خو دا خبره هم د پام وړ ده، چې په دغو هېوادونو کې داسې هېوادونه هم شته دي، چې یوازې له یوه هېواد سره درېدل يې د ترازو په شان مثال لري؛ لکه هند او پاکستان، ایران او سعودي، یا هم امریکا او چین+روسیه.

وروستیو لسیزو دا په ښه توگه ښودلې، چې هر کله زموږ انتخاب "یو" شوی، نو نور يې اړ ایستلي چې په افغانستان کې نیابتي جگړې پیل کړي. کورنۍ جگړه او د امریکایانو له راتگ څخه وروسته د هند پر کونسلگریو بریدونه، د هندي اتباعو وژل، پاکستاني لاسي؛ او بلې خوا ته بیا د پاکستان پرخلاف له حده وتلی پروپاگند او هندي لاسي د دغو نیابتي جگړو ژوندی بېلگې دي.

له همدې امله نه ښايي، چې افغانستان دې ځان یوازې له یوه لوري سره وتړي؛ ځکه دلته حالات په غیرمستقیم تناسب کې روان دي، له یوه سره ډېره ملگرتیا د بل دښمني راپاروي. نو باید له ټولو سره په اړیکو کې ناپېیلتوب وساتو؛ خو چې د هېواد د ملي گټو او ملي حاکمیت په زیان نه وي!

## ۴ - د افغانستان نرم ځواک زیاتول!

افغانستان په سیمه او اسلامي نړۍ کې خپل ځانگړی نرم ځواک لري، چې عمق يې زموږ په تاریخ، ادب او د اسلام په دین کې نغښتی دی. موږ ته پکار دي، چې د همدې عمق پر مټ خپل نرم ځواک په گاونډ او اسلامي نړۍ کې لا پیاوړی کړو. لکه د غزني، هرات او بامیانو تاریخي، دیني ځایونه او مزارونه ودانول، چې د سیمې فرهنگي سیاحانو ته لار پرانیزي؛ د پخوانیو شاعرانو پر افکارو، چې زموږ په گاونډیو هېوادونو لکه ترکیه، ایران، پاکستان او نورو هېوادونو کې خپلې ژورې اغېزې لري، څېړنې وشي او نوم يې بیا راژوندی شي.

ACKU

## ۵ - اقتصادي ډيپلوماسي:

د نړيوال اقتصاد د يوه اقتصادپوه «جان ټېنبرګېن[1]» د يوې نظريې، «جاذبې معادلې[2]» له مخې، چې د تېرو څو لسيزو ارقامو دا نظريه سمه ښودلې ده، هر څومره چې د دوو هېوادونو ترمنځ جغرافيوي فاصله کمه وي، نو ترمنځ به يې تجارت زيات وي. ځکه نو اړينه ده، چې موږ له خپلو ګاونډيانو سره، په داسې شرايطو کې چې د هېواد په ګټه وي، تجارت پيل او لا زيات او پراخ کړو.

د اقتصادي پرمختګ يو شاخص هم سوداګري ده؛ موږ چې د اقتصادي پرمختګ د صنعت په برخه کې ډېر وروسته پاتې يو، لازمه ده چې د خپلو زراعتي توکو؛ لکه وچې او لمدې مېوې او نورو توکو تجارت ته مخه کړو، چې له تېرې لسيزې راپه دېخوا زموږ د نړيوال تجارت ستره برخه هم جوړوي.

په ټوله کې بايد موږ له چين، هند، روسيې او ګاونډيو هېوادونو سره خپلو اړيکو ته په پراخه کچه اقتصادي نوعيت ورکړو، چې له امله به يې هېواد له اقتصادي پلوه په خپلو پښو ودرېږي. پای

---

[1] Jan Tinbergen

[2] The Gravity Equation of International Trade

ACKU